مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۴/۱۵

# نمانځلی دې په لوڅو پښو اختر دی لېونی

په ځاځکو دې د اوښکو زړه پرهر دی لېونۍ!
نمانځلی دې په لوڅو پښو اختر دی لېونی

ستا ویني ویني اوښکي شوې نکریزې د لاسونو
سینګار دې ځانته کړی په هنر دی لېونۍ!

چې ته پکي نهره یې همدې وطن نه ځار شو
د پلار پر قبر ایښی چې دې سر دی لېونۍ!

ستا حق نه یې بتان ځانته جوړ کړي د پیسو دي
ددې زماني هر بزرګ اذر دی لېونۍ

ساړه آهونه وکړي هسې توري کرښې کاږي
دا ستا له غمه مړ کله باور دی لېونۍ!؟





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ